# ! د منهاج الدين ګهيځ په لټون کې

# IN SEARCH OF MINHAJUDDIN GAHEEZ

ليکوال:

استاد م. ظريف امين يار

M. ZARIF AMINYAR



31-03-13, London, UK

## انځور # ۱: شهيد منهاج الدين ګهيځ

استعمار د نړی يو تريخ حقيقت دی چی خورا لوی تاريخ لری. معاصر علما او پوهان(Contemporary Scholars) په دی نظر دی چی استعمار اقتصاد(Economics) ، سياست(Politics) او دين/مذهب(Religion) د دری عناصره همدغه او لري اړيکی سره سره (Free Will)دی.الله تعالی انسان آزادی ارادی (Factors) استعمار بنسټيز فاکټورونه پيدا کړی دی. د انسانی ژوند فلسفه هم د اسلام له نظره همدغه ده يعنې(يانې) انسان

خپلواکه اراده لری او کولای شی چی په خپلی خوښې ټاکنې وکړی ولی د انسان هره لری چی نهایتآ د جنت او یا د جهنم دروازی (Opportunity Cost)ټاکنه فرصتی لګښت هغه باندی خلاصولی شي.

افغانستان د نړی یو داسی هیوادو څخه دی چی د استعماریونو د پرله پسی حملاتو ښکار شوی دئ. له هغه ځای نه چی په افغانستان باندی د یرغل اسباب ډیر دي تشریح یی هم زما داوسنی مطلب د وس نه بهر ده ولی د نورو عواملو سره سره د موقعیت هم یو اساسی عامل ګنل کیږي. کله (Geo- Politics)افغانستان جیو پالیټیک چی یو هیواد په بل هیواد باندی د استعمار په موخه یرغل کوي د خپلو اقتصادی، سیاسی او عقیدتی موخو او هیلو لپاره له هیڅ ډول نا انسانی او نا مشروع کړونو څخه ډډه نه کوي. استعماریون هڅی کوي چی د استعمار شوی هیواد د ولس اقتصادی ، سیاسی او اجتماعی حقوقو باندی خیټه واچوی او تیری پری وکړی. همدغه سبب ده چې د ولسونو له مقاومتونو سره مخامخ کیږي.

که د افغانستان تاریخ ته کتنه وکړو نو دابه په ډاګه شی چی هر هغه وخت چې استمعاریونو افغانستان باندی یرغل کړی دی ، زمونږ با غیرته ولس تل د وطن او اسلام څخه ټینګه دفاع کړی ده او د الله تعالی فضل او د افغانانو زړورتوب، غیرت او شجاعت له کبله استعماریون همیشه ناکامی سره مخامخ شوي دي. ولی د آزادی او دینی ارزښتنو د ساتنې په دغه بهیر کې افغان ولس د ځني ډیرو پیاوړو عالمانو،روحانیونو،داعیانو، او پوهانو قرباني ورکړی ده. زما اوسنی مطلب هم د یو داسی شخصیت په هکله ده چی د خپلواکی او دینی ارزښتنو ساتلو لپاره دخپل خوږ ژوند قربانی یې ورکړی ده او خپل نوم یی د نړی په تاریخ کی په زرین خط باندی لیکل دی. هو زه هغه شخصیت ته اشاره کوم مسول، د روښتونوالي توانا قلموال،په (Gaheez Weekly)چې د ګهیځ د اوونیزی جریدې

ایمان پوره مجاهد،ژوندی ژورنالیست، با جراته داعی ، انقلابی اواصلاح طلبه انسان، د خاوند، د شجاعت او زړورتوب بې نظیره مثال او په (Ideology)روښانه او پراخه آیډیالوژي (Patriot)وطن میین ؤ شخصیت.

له روحانیون ، (14th Century)جناب منهاج الدین ګهیځ د هېواد د څلورلسمی پېړی ځخه ؤ چې د پیاوړي ملي او (Writers)او لیکوالو (Journalists) تکړه ورځپاڼه لیکونکو اسلامي اند واند خاوند ؤ او د همدې کرښې له مداره یې د خپلې مبارزې وړانګې غوړولې، د ګهیځ په نامه یې یوه اوونیزه خپرونه راوویسته چې د اسلامي فکر و خیال د خورېدا او د ملي ګټو د خوندیتوب لپاره یې مبارزه کوله او "ادعوا الی سبیل ربک بالموعظه حسنه" تګلار یې خپله کړې وه. د ګهیځ اصلي موخه د افغان مسلمانانو فکری رغونه،د افغانانو پام د هغوی سیاسی او تاریخی راتلونکي ته کول، د ولس پام ختیځ او لویدیځو دښمنانو ته رااړول ، د اسلامی طرز تفکر خورول او غوړول او د افغانستان د ګټو خودیتوب ؤ. د "ګیځ" اوونیزه په دو ژبو پښتو او دری باندی منتشر کیده او په ټول افغانستان کی یې لوستونکي لرل.



جمعیت علمای

**انځور # ۲: د ګهیځ جریدې یوه ګڼه**

## زوکړه او ځای(Birth and Family Background)

او د کندوز ولایت د (Ghilzai Pashtun)منهاج الدین ګهیځ په خټه غلزی پښتون خان آباد ولسوالی له یوی دینداره او روڼ فکرې کورنی سره تړاو لري. ګهیځ یوی روڼ فکرې ، دینداره او پوهه پالونکې کورنی زوی ؤ . هغه په ۱۹۲۲ میلادی کال کی د بدخشان په فیض آباد ولسوالئ کې سترګې وغړولې. د هغه پلار جناب قاضی برهان الدین پخپل وخت کې یو لوی عالم او قاضی ؤ . جناب قاضی برهان الدین رسمی دنده درلوده او د خان آباد د جریدې مسولیت هم پر غاړه لاره. د ګهیځ کورنی په اصل کی د ننګرهار د خوګیانو ولسوالی سره تعلق لری چې بیا وروسته له خوګیانو څخه د کندوز ولایت د

خان آباد ولسوالۍ ته منتقل شوي او هلته د ژوند تیرولو لپاره پاتی شوی دي . د ګهیځ د ژوند سفر هم د افغانستان د شمال د سیمی نه پیل کیږی .

## زده کړې (Education)

له خپل پلاره یعنې (Basic Education)منهاج الدين ګهیځ خپلې ابتدایی زده کړې جناب قاضی برهان الدين څخه په کاله کې ترسره کړی دي. هغه د ډیر ماشوم توب نه ذهین او ذکی زده کوونکی ؤ او د علم او ادب سره یی ځانګړې مینه درلوده. وروسته بیا ته ولاړ (Khanabad High School) ګهیځ د رسمی زده کړو لپاره د خان آباد ښوونځي چې خان آباد کی یې موقعیت درلوده. ګهیځ د علم تږی ؤ ځکه خو کابل ته د لوړو زده کړو کی شامليږي. البته دغه ( Teacher Training Institute) لپاره ځی او د کابل دارالمعلمین دارالمعلمین په هغه وخت کې د کابل پغمان ولسوالی کی موقعیت یې درلوده . ګهیځ له په دندې (Teacher)همدی دارالمعلمین څخه فارغ شو او په غیرزي لیسه کی د ښوونکي وګمارل شو.

## شخصی ژوند (Personal Life)

ګهیځ اووه خورګانې او څلور نور ورونه لرل چی مشر یې همدی ؤ او نور ورونو یې هر یو استاد نور احمد خان چې اوس استرالیا کی اوسیږی، اروانښاد مفتاح الدين ، استاد صلاح الدين چی د عبدالهادی داوی لیسه برحال استاد دی او بل ورو یې د پښتو ژبې لوی لیکوال ښاغلئ استاد سعد الدين شپون دی. ګهیځ څلور زومن او اووه لورګانې لري چی ټول زومن یې افغانستان کې ژوند کوي او لورګانې یې بهرنی هیوادونو کی میښت دي.

## فکری او آیډیالوژیکي وده(Ideological Development)

دجناب منهاج الدین ګهیځ فکری او آیډیالوژیکي وده څو اړخه لري چی په لانـدی ډول یی خلاصه کولای شو:

### ۱. ګهیځ باندی د هغه پلار اغیزې (Family Effects )

څنګه چی مخکې هم تشریح شو د ګهیځ پلار د خپل وخت یو لوی عـالم ؤ. قاضـی برهـان الـدین حقـوق، شــرعیات (Theology) ، سیاســت، ژورنـالیزم (Journalism) او ادبیاتو(Literature) سره مینه درلوده او په وطن مین سړی ؤ. جناب قاضی برهان الدین پرتـه لـه دی څخـه چـې رسـمی دنـده یـې درلـوده د خـان آبـاد د جریـدې (Khanabad Newspaper) مسولیت هم په غاړه لاره. د ګهیځ ادبیاتو او ژورنالیزم سره مینه پـه ډیـر ګمان باندی له پلار څخه ورته په وراثت پاتې شـوې ده. ګهیـځ هـم د پلار پـه شـانتې پـه انسان ؤ (Nationalist) اسلام مین او ملت پال.

### ۲. د آزادو زده کړو اغیزې (Effects of Open Studies)

ګهیځ په کتاب او قلم مین ، حتا د ماشوم توب څخه د مختلفو کتابونو مطالعه یـې کوله، بیا چې رسمی مکتب ته لاړو هلته دغه بهیر لا زیات شو او بالاخره دغه بهیـر کلـه چی ګهیځ د کابل دارالمعلمین کې پښه کیښوده اوج ته رسیری. هغه د خپل پلار په څیر شرعیات، سیاست، حقوق، ژورنالیزم او ادبیاتو سره سخته مینـه درلـوده. د دی سـره سـره ګهیځ د نړی نه باخبره سړی ؤ او همیشه نړیوال سیاست په هکله کتابونو یې لوسـتل او د نـورو هیـوادونه پـه سیاسـی ، اقتصـادی او اجتمـاعی کړنـو نـه او د نړی نـوی علومـو او پرمختګ نه آګاه ؤ. آزادی زده کړی د ګهیځ فکری او آیډیالوژیکي شخصیت باندی خورا مثبی اغیزې درلودې او زما په اند د ګهیځ د فکری ودی اساسی عامل تشکیلوی.

### ۳. د لوړو زده کړو اغیزې (Effects of Higher Education)

په هغه وخت کې چې ګهيځ ژوند کولو په افغانستان کې دارالمعلمين د عام خلکو لوړی زده کړی ګنل کيدې. د تعليم او (Prestigious)لپاره د ټولو نه با حثيته او با وقاره تربيه زده کړې هر اړخيزی زده کړی دي او نورو اجتماعی او طبيعی علومو سره په مستقيم او غير مسقتيم توګه تړاو لري. په عمومی توګه د تعليم او تربيه فارغان د نورو تخصصی رشتو نه په ټولنيزو مسايلو کې ډير او جامع علم لری. همدغه وجه ده چې ګهيځ هم د تعليم او تربيه زده کړو نه وروسته په ټولنيزو چارو کې ډير شامل شو او ټول ژوند يې د علم او پوهی په خپرولو او د ځوانانو فکری رغونی کې تير کړو.

## ۴. د سياسی حالاتو او تحولاتو اغيزې

## (Effects of Political Evolutions and Situations)

که تاسو د افغانستان تاريخ ته کتنه وکړی نو دابه واضح شي چې افغانستان داسی يو هيواد دی چې هميشه د سياسی ، اقتصادی او اجتماعی ...تحولاتو نه ډک او غنی دی. تحولات په عمومی ټوګه مثبت او هم منفی اغيزې لري ولی په دواړو صورتونو کې هغه هيواد چې د تحولاتو سره لاس په ګريوان وي د هغه هيواد خلک په سياسی او ټولنيزو ځانګو کې پرتله د هغه هيواد چې تحولات پکی نه وی يا لږ وی ډيره پوهه لري. ګهيځ هم د افغانستان وګړی ؤ او د افغانستان دننی تحولاتو هغه باندی هم اغيزی پريښی دي . د بلی خوا نه د ګهيځ په وخت کی کابو ټوله نړی هم دچټکو تحولاتو تجربه يې کوله، له هغه ځای نه چې ګهيځ هميشه د نړيوال سياست په اړه دلچسپي هم بلديت درلوده هميشه يی کوښښ (English Language)درلوده او په انګليسی ژبې کولو چې په نړيواله سطحه باندی کتابونه چې عموماً په انګليسی ژبې طبع کيږی ولونی او ځان د نړی د پرمختګ او نورو سياسی، اجتماعی او اقتصادی حالاتو نه آګاه کړي چې دغه جريان زما په اند د ګهيځ فکری او آيډيالوژيکي پوهې ته جامع او لا زياته وده ورکړه.

## ۵. اجتماعی اغیزی (Social Effects)

ګهيځ با احساسه او په وطن مين انسان ؤ . په هغه وخت کې چې ۳ فيصده افغانانو هم لوړې زده کړی نه درلودی ګهيځ د لوړو زده کړو خاوند ؤ. په هغه وخت کی د افغانستان تعليمی وضعيت د حد نه زيات خراب ؤ او په داسی حال کې با تحصيله کسان ډير کم او دوی باندی لوی مسوليت په غاړه ؤ. ګهيځ نه يوازی با تحصيل افغان ، بلکه يو با احساسه ښوونکی هم ؤ ځکه خو د افغانانو خراب تعليمی وضعيت نه تل سخت متاثره نه خبر (Modern Sciences)کيدو. هغه غوښتل چی افغانان د اسلامی او معاصرو علومو شی ځکه خو د ګهيځ اوونيزه جريده يې پيل کړه چې وشی کړی د دغه لارې نه په آسانه توګه با تحصيله قشر د ټولنې آګاه کړی ترڅو هغوی د خپل ملی او اسلامی مسوليتونو ته پام وکړی. له بلی خوا ګهيځ د اقتصادی له لحاظ نه يوی ټيټ منځنی شخصيت يې (Radical)سره تړاو لاره ځکه خو هغه بعضآ راديکال (Low Middle)کورنی او برابری (Equality) ، عدالت(Justice) ، خانته (Reforms)اختيارولوو، او د اصلاحاتو غوښتونکئ ؤ.

## ۶. د ويښ ځلميانو اغيزی (The Weekh Zalmian Effects)

د ويښ ځلميانو نه پيل (Revolutionary Movements) د افغانستان انقلابی جنبش د آزادی غوښتنې اصول يعنې (Shah Mahmood)کيږي. ويښ ځلميان د شاه محمود ته د عقيدې د ټولو نه مهمه پايله وه. ويښ ځلميان په ۱۹۴۷ ميلادی (Liberalism) لبراليزم کال کې په کندهار کی تاسيس شو ولی عموما هغه ټول ځوانان چې د خپلواکی حمايه کوونکي او غوښتونکي ؤ ، د (Reforms) او اصلاحاتو (Radicalism)غوښتولو اصول افغانستان د مختلفو سيمو نه ويښ ځلميانو سره يوازی شوي ؤ . ګهيځ هم د ويښ ځلميانو فعال غړی ؤ هغه هم د راديکاليزم او ريفورم حمايه کوونکی ، د عدالت او برابری

غوښــتونکی ؤ پــه دی تــوپیر چــې هغــه دغــه بــدلون غوښــته ولــی نــه د کمیــونیزم (Communism) له لارې بلکه د اسلامی نظام او اسلامی اقتصاد (Islamic System and Islamic Economic System) لــه لارې . هغــه د ویــښ ځلمیــانو پــه پولارایزیشــن (Polarization) کی هم شامل ؤ. بی له کوم ګمان نه ویښ ځلمیان د ګهیځ په فکری او آیډیالوژیکی ودی کې خاص ځای لري او ژوری اغیزی پریښی دي ځکه ویښ ځلمیان هغه وخت د اجتماعی مفکورو او د پرولارایزیشن یواځنی مرکز باندی مبدل شوئ ؤ.

## ۷. د مسلمان ځوانانو د ګوند اغیزې (Effects of Muslims Youth Party)

منهاج الدين ګهيځ د پټ اسلامی سـازمان (Underground Islamic Movement) غړی هم ؤ چی دغه سازمان د نوم په اړه د نظریاتو اختلافات شــته هغـه داسی چی ځني ورته د افغانستان د ځوانانو جنبش، ځنی ورته د مسلمان ځوانانو جمعیت اوځنی نور ورته بیا د افغانستان اسلامی جمعیت هم وایی ولی په هر صورت دغه سازمان په ۱۳۳۶ لمریز کال کې د کابل پوهنتون ځو تنو روڼ فکرو مسـلمانانو لکـه پروفیسـور غلام محمد نیازی(Prof. Ghulam Mohammad Niazi) او نورو په واسطه پیل او په ۱۳۴۸ لمریز کال کې خپل فعالیتونه په لویې کچې اجرا کړ .د مسـلمان ځوانـانو ګونـد عملـی فعالیت د دغه کال نه پیل شـو ، چـی دا دی لیکلـو ارزښ لـری چـې د دغـه سـازمان ډیري بنسـټ ایښـوونکي د محمد ظاهر شاه په رژیـم ( ۱۳۱۲ -۱۳۵۲ ) ل. کـې اعـدام شـول. ګهیـځ پـه عقیده او فطرت کلک مسلمان ، هر هغه اسلامی او ملـی سـازمان سـره اړیکـه غوښـتله چې د اسلام او وطن د ګټو خوندیتوب په لاره کې هځی کولې. د مسلمان ځوانانو ګوند تر ډیر وخت نه یو اسلامی او ملی حرکت ؤ ، ولی بیـا وروسـته پکـې بهرنـې لاس وښـونې وشوې او د اصلی موخو نه انحراف وکړو. ګهیځ د دغه نهضت فعال غړی ؤ او په دی فکر ؤ چی اسلامی حرکتونه حتا که جوړښـتونو کې يې ستونزې هم شتون لري بیا هم د بهرنی

عناصرو باندی د اتکا نه ښه او  افغانستان ته ګټور دي. هغه يوازی د اسلام د مباريزينو دايره پراخولو لپاره دغه ګوند سره يوځای ؤ او کلکه عقيده يې درلوده چې که ټول افغانان خپلې کړنې اسلامی کړی او خپلو مسوليتونو ته پام وکړی نو افغانستان به تل خپلواکه او سوکاله هيواد پاتې شی ولی که مسلمانان خپل طرز تفکر ته بدلون ورنکړی او ويده پاتې شي نو راتلونکي وخت کې به سخت نادم  او پښيمانه وي. د مسلمان ځوانانو ګوند د ګهيځ اسلامی او ملی شخصيت ته نور هم داډ ورپه برخه کړو او د هغه حوصله يې د اسلامی او ملی خدمت لپاره نوره هم پراخه کړه.

## دندې (Employments)

ښکه چې مخکی هم بيان شو ګهيځ د دارالمعلمين د فراغت نه وروسته په غـرزي کې په دندی وګمارل شو. هغه په دغه ليسه کې تر ډېر (Ghagzai High School) ليسه وخته د ښوونکي په حيث کار وکړو، بيا وروسته د آريانا به نوم يو بارچالانی شرکت چې کابل کې موقعيت يې درلوده په کار پيل وکړو. د حج پر وخت د همدغه شرکت له خوا د حاجيانو د ميلمه پالنې لپاره د سعودي عربستان په جده کې همدې شرکت د په توګه وټاکل شو. مخکې له دې چې ښاغلی منهاج الدين د "ګهيځ"  (Delegate)استازي په خپرولو پيل وکړي، د ويښ ځلميانو او د مسلمان ځوانانو د دېټ ګوند يو فعال غړی ؤ، همدا وخت چې دئ د ويښ ځلميانو غړی ؤ د پلخمري په نساجي فابريکه کې يې کار کاوه، دا هغه و چې په ويښ ځلميانو کې د ده د کارنده فعاليت له امله دئ له دندې ګوښه کړای شو. بيا څه وخت وزګار ؤ، او په خپل کلي  يعنې خان آباد کې يې دوکان درلود. منهاج الدين ګهيځ  غريبانه ژوند درلوده او ژوند يې په عمومی توګه د سخت اقتصادی ستونزو سره يوځای تير کړو ولی هيڅکله ماديات باندی يې ډير پام ونکړو او تل د معنوياتو په پلټنه کې ؤ . کله چې منهاج الدين د ګهيځ جريدې په خپرونو لاس پورې کړو

يعنې ۱۳۴۷ لمريز كال د دلوې پر ۲مه نيټه ، نو همدا وخت يې د ارزاقو په رياست کې كار كاوه او هم يې ګهيځ چلاوه، دا په دې معنا چې ګهيځ يوه بيداروونکې رڼا او وينښوونكى غږ ؤ، نه د مادي منابعو د لاسته راوړنې وسيله.

## د ګهيځ آيدیالوژي (The Idelology of Gaheez)

زه پر دی باندې كلكه عقيده لرم چې ګهيځ نه يوازې يو انقلابی شخصيت بلكه يو مكتب دئ او د هغه په هكله كتابونه ليكل به هم لږ وى ، نو ځكه د هغه پوره آيډيالوژي په دی لنډو او تنګو پاڼو كې ځايول نا شونې دئ . د مقالې محدوديتونو ته او پورتنې حقيقت ته پام سره زه مختصراً ګهيځ تاسو ته درپيژنم.

منهاج الدين ګهيځ د هغه شخصيتونو څخه دی چې د يوى لنډې او متحركې په لړ كې په ملتونو كې هغه بدلون غواړی چې ټول ولس(Dynamic Process) پروسې باندې داسی اغيزی منځته راوړې چې د هغوي خپل ايمان باندی عقيده ژوره شي او يو داسی مدنی خوځښت را پيدا شي چې روحانی ابعاد يكی ښكاره او ژوندی وى. د ګهيځ زيات تمركز په با تحصيله قشر باندې ؤ دا ځكه چې هغه غوښتل د با تحصيله كسانو په وسيله د اسلامی او معاصرو علومو رڼا دافغانستان هر كلي ته ورساوي او ملت د نا اسلامی جراثيمی نه پاک كړی. او دا يوازې د باتحصيله خلكو له لارې نه په لنډې مودی كې شونې وه.د ولس بيدارول او داسی مدنی بدلونونه عموماً د اوږدی مودې كار دی ولی ګهيځ متحركه انسان ؤ او په آسانه طريقه يې خپله كړې وه چې پايلې يې نږدی حيرانه كړې.

ګهيځ داسی متحرک شخصيت ؤ چې د يوی خوا يې ګهيځ چلاوه او نورو اسلامی حركتونو سره يې مرسته كولې او د دغو حركتونو فعال غړی وه او له بلی خوا د اسلام ضد حكومت ، د شوروی اتحاد كمونستی نظام ، د امريكا امپرياليستی نظام او د افغانستان

عناصرو سره په پوره شجاعت (Atheist)کمونستی او ملحدی ، (Fascist)دننه فاشستی سره جنگیده. هغه ګهیځ جریدې کی د هغه ټولو سترو اسلامی او معاصرو علومو علماؤ او پوهانو مرسته لاسته راوړه چې داسې په زړه پوری اسلامی او ملی مطالب یې په ملی او نړیواله سطحه نشر کړل چی تر ننه پوری افغانسان کې بیا ندي تکرار شوي.

ګهیځ د اسلام دین سره سم پخپلو خبرو ولاړ او وعده پیژندونکئ انسان ؤ. هغه په اسلام او افغانستان په مجلس عمل او په هر ملی دریځ کې حتا ډیرو نازکو او د خطر نه ډکو فعالیتونو کی پخپل دریځ ولاړ انسان ؤ. هغه د پښتو (په پښتني کلتور کې پښتو د یو ژبی او یو دریځه په معنا کارول کیری) سړی ؤ او په خپلو خبرو کلک ولاړ ؤ ځکه خو تر مرګه پوری د اسلامی ارزښتنو او د ملی نوامیس ساتنه یې وکړه، پرته له دینه چې په وروستیوو کې شرایط د اسلامی فعالیتونو لپاره ډیر ستونزمند شوی ؤ ولی پښتون ؤ په پښتو ویاړ ؤ او د ژوند تر آخرو شیبو پښتو یې وکړه.

ګهیځ په داسی یوه غوغایي او انقلابی پړاو کې جنګیده چې نړۍ پکې ټوله د تحول او بدلون پر ژۍ ولاړه وه او افغانستان که د اسلامی فعالیتونو لپاره حالات ډیر تنګ او سخت ؤ.لکه څنګه چی مخکې می هم تشریح کړ افغانستان همیشه د تحولاتو او بدلون نه وروسته شوروي (Brittish)نه ډک او د نورو هیوادونو د یرغل لاندی ؤ . د انګریزانو اتحاد په دې هیواد کې هغه وخت دخپلې خوښې بدلون لپاره وخت مناسب وګاڼه چې زمونږ ملت نژدې یوه پیړۍ له انګریزی استعمار سره په پوره بهادری او شجاعت سره جګړه وکړه او د بریتانیا لوی قوت یې ناکامی سره مخامخ کړ. په دغه وخت کی ګهیځ په اوضاع باندی پوه ؤ او غوښته یي چی افغانستان د شوروی اتحاد د یرغل نه وژغوري او ملت د شوری اتحاد(Soviet Union) د نا پاکو ارادو څخه خبر او ویښ کړی.

ګهیځ سره د دی چی ژوره او آزاده آیډیالوژي لرله د دین عالم هم ؤ او په اسلامی ډیر موثر او ګټور ګنل کیږی. ګهیځ د (Role) حرکت کې د دیني علماو کردار یا رول شرعیت سره سره د عصری علومو باندی تسلط درلوده او هغه وخت په ملت او عامو خلکو باندی د دغسی عالم تاثیر پرتله په هغه علماوو چی ظاهری شکل یې ملایانو غوندی ؤ ؛ ډیر او موثره ؤ. هغه غوندې عالمان په هغه وخت کې ډیر لږ او د ګوتو په شمار پیدا کیدل چی د وخت پرحساسیت ، د نظامونو پر بی دینۍ او د اسلامی شرعیت پر اهمیت پوره پوره پوهیدل. ګهیځ خپل وروستۍ ژوند د کابل ګذرګاه سیمی کی تیر کړو چی د سیاسی لوبو مرکز ؤ. له بلی خوا ګهیځ استاد ؤ او د هیواد د سیاسی جریاناتو او ناخوالې نه په بشپړ توګه آګاهی لرله.

شوری اتحاد د ډیر مودی نه غوښتل چې افغانستان باندی یرغل وکړي او یا افغانستان د خپل مشری لاندی راولی ؛ ترڅو خپلو سیاسی، اقتصادی او توسعه یې موخو ته ورسیږی. بیا په عملی توګه شوروی اتحاد د غازی امان اللهـ خان (King Amanullah Khan) د رژیم نه دیخوا کله چې انګریزان په اقغانستان که ناکامه شول ،په افغانستان باندی پانګه اچونه پیل کړه. د امان الله خان په رژیم کی د شوری اتحاد افغانستان سره نږدی اړیکې د پورتنۍ ادعا دلالت کوی. بیا دغه بهیر د سردار محمد داود خان (Sardar Mohammd Dawud Khan) په رژیم کې لا زیات شو او بالاخره شوروی اتحاد د خلق دموکراتیک ګوند (People Democractice Party of Afghanistn) (د ۱۹۶۵ میلادی تشکیلوی کال د جنوری په میاشت کی یوه کوچنۍ ډله د مارکسیستانو د تره کئ کور( چی کابل کی ؤ ) ته راغونډیری او دخلق دموکراتیک ګوند تشکیلوی) چی د دغه ګوند تشکیل او تاسیس د شوروی اتحاد د افغانستان نیولو د ستراتیژی لومړی عملیاتی پلان ؤ. نن خپله روسی تاریخ لیکونکې هم دا منی چی د خلق دموکراتیک ګوند د دوی په واسطه تاسیس

شوۍ او اداره  کیدو البته وروسته بیا دغه حزب کې د روسانو د هیلو متضاد او برخلاف ځني ملی عناصر او حرکتنو را پیدا شول چی د روسیه یرغل سره له منځه لاړ. کله چی سردادر محمد داود خان د خلق دموکراتیک گوند په مرسته ولس مشرۍ ته رسیری د شوری اتحاد ستراتیژی کامیابی ته نردی کیری او بیا د کمونیستانو د انقلاب نه وروسته هم له منځه لاړشی شوری  (Noor Mohammad Tarakai) کله چې نور محمد تره کی اتحاد د افغانستان په اړه خپله ستراتیژی په خطر سره مخامخ تصور کوی . دا ځکه چی هڅی کوی چی افغانستان د شوری اتحاد د اتکا نه   (Hafizullah  Amin)حفیظ الله امین خلاص کړی. امین د افغانستان خپلواکي په خطر کی وني او د شوری اتحاد نه د خلاصون په هیله نورو هیوادونو نه د مرستی درخواست کوی ولی شوروی اتحاد هغه ته دا مجال او فطرت  (Nationalistic)وخت نه ورکوی. کرملی  کی ناست شورویان د امین د نشنلستی نه  له مخکې نه آگاه، په دی اند ؤ چی د امین سرغړونه د دوی د کلونو پانگی اچونې او زحمت په صفر سره ضرب کولای شی او د پلان نه مخکی د افغانستان نیولو لپاره نظامی (Babrak حملې پیلوی چی په نتیجه کې یې حفیظ الله امین په قتل رسوی او ببرک کارمل Karmal)  ځخه یوه اساسی مهره گنل کیده  (Agents)چی د شوروی اتحاد اصلی اجنتانو ،. واک ته رسوی

گهیځ مخکې له مخکې نه  د شوروي اتحاد د ستراتیژی نه آگاه او با خبره ؤ.

هغه  تل هلی ځلی کولې چی افغان ملت ویښ کړی او د شوروی اتحاد د ناپاکو ارادو ځخه خبر کړی. هغه پر دی هم ښه پوه ؤ چی د خلق دموکراتیک گوند د شوروی اتحاد نه اداره کیږی او نهایتآ د افغانستان خپلواکئ په ضرر دی. هغه ډیر شجاعت سره د کمونیستانو مخالفت کوو او ملت یې د اسلامی ارزښتونو ساتنی لپاره هڅوه. بلخوا بیا شوروی اتحاد پر دی فکر ؤ چې د انگریزانو استعمار سره دافغانانو پرله پسی جگړو پای د

یوې ناهیلې اوضاع راتګ نور افغانان بې وسه کړي او کیدای شي د بل مقاومت له فکر او توان څخه یې لرې ساتلي وي ، ولې کله چې سور پوځ په افغانستان کې دځمکنیو حقایقو سره مخ شو، بیایې ایله دا ملت وپیژانده ولې وخت د وخت نه تیر ؤ. شوروی نه یوازی ځانی، سیاسی او اقتصادی زیانونه تجربه کړل بلکه پوره د کمونیزم (Communist System)نظام زیان یې هم ورکړو .نن د امریکا متحده ایالات هم شوروی اتحاد غوندی فکر کړئ ؤ چی افغانان د شوری اتحاد له جګړو او د مجاهدینو د دننی جګړو او د طالبانو تشدد نه په بشپر توګه ستړی شوی دی، نو له امریکې سره به په داسی یو نا هیلی وضعیت کی څه مقاومت کوی او په همدی هیله یې د سپټمبر ۹ مـی په پلمه په افغانستان باندی یرغل وکړو، ولی تیرو کلونو دا په ډاګه کړه چی افغانانو سره ډغره آسانه نه ده او افغانان د خپله آزادۍ او دینی ارزښتونو معامله نه کوی او نه څوک غرور (Freedom)زغملی شی چی دوی باندی حکومت وکړی. افغان ولس تل د خپلواکئ لپاره د خواړو ځانونو نه (Islamic Values)سره ژوند کړی دی او د وطن او اسلامی ارزښتنو هم تیریدی شي.

ګهیځ اسلام او اسلامی نهضیت سره د زړه له کومی خواخوږی لرله. ګهیځ د هغه پوهانو له ډلې څخه ؤ چې د دعوت او وطن پالنې په اړه پوره جدي ؤ او طبعیتاً بی تفاوتي یې خوښه نه ؤ ، هغه د وخت او د حالاتو په حساسیت او سیاسی اوضاع او چلند باندی ښه پوهیده. ګهیځ همیشه د اسلام لپاره یې ځوانان هڅول او هر هغه کار یې اجرا کولو چی د اسلام و وطن په ګټه وی. هغه دا کوښښ کوه چی اسلامی علما او وطن دوسته پوهان لکه اروانښاد استاد مولوی احدی وردګ، اروانښاد فرقانی، اروانښاد پیمانی او داسی نور ځان سره آشنا کړی او د دوی مقالې،مطالب، تبصری او علمی

ځیرنی د هیوادوالو د فکری رغونې لپاره د ګهیځ جریدې څخه خپرې کړی. د ګهیځ جریدی د شهرت یو اساسی عامل هم دغه ؤ.

ګهیځ ډیرو ښو ځانګړتیاو تر څنګ د هغو با وقاره او پر ځان باوري مبارزینو څخه ؤ چې فطرتآ یې ځان او خپل صف پر مخالفینو لوړ ګاڼه او د اوچتې حوصلې ، روحیې او خاوند ؤ ، پرته له دي ځخه چی کمونستان او حکومت د اسلامی نهضت (Moral)مورال مخالفت کوو هغه په ډیر شهامت او شجاعت سره د ګهیځ جریدې نشراتو ته ادامه ورکړه او د هیوادوالو د فکر رغونې بی سابقه هڅی یې وکړی. سره له دی چی وروسته بیا سیاسی وضعیت او شرایط ډیر سخت شول بیا هم په زغرده یې ټولو مخالفو عناصرو سره مبارزه کوله او ورځ په ورځ د ګهیځ جریدی لوستونکي ډیریدل ځکه چی ګهیځ د مقالو ، لیکنو، تبصرو او محتوی له اړخه ژوندی ؤ او د یو با ایمانه ټیم مصروفیت او شندنو په نتیجی که چاپ کیده.

ګهیځ د اسلام سپیڅلی دین په استازیتوب مخامخ او صریح انسان ؤ، په هر لیک، هر دریځ او هری وینا کې یې د اسلامی ارزښتنونو رنګ واضح ښکاریده، هغه سرسخته پښتون ؤ د دا عهد یې کړئ ؤ چی نا اسلامی او د افغانستان خلاف عناصرو سره به ډغره وښی او په لاره کې د هر څه نه به تیریږي.هغه فطرتآ ساده مزاج درلوده او هڅه یې نه کوله چی د معاشری د انفاق نه په ډک تهذیب کې ځان یو روڼ اندیه یا هم د وخت او صف سره روان انسان وښي. د ګهیځ ویناوی، فعالیتونه او دریځونه د هغه د ارمان ښکارندوي وی او خپلو اصول ته د یو پابند انسان دریځونه ؤ. هغه څومره چی پخپل ژورنالیستی او سیاسی ژوند کې پرمختګ وکړو ،هومره خپلو اسلامی او ملی اصولو او موخو ته نږدی کیده او حوصله یې نوره هم پراخیده.

پرله پسې اتمې ګڼې په خپله (Gorbat)ښاغلي استاد سعدالدين شپون د ګوربت يوه مرکه کې د ګهيځ په اړه وايي: « ګهيځ د ژورې مطالعې خاوند ؤ، ډېره ښه روانه انګرېزي يې لوسته او ويله، يو دنياوي سړی ؤ». ګهيځ د همدې ژورې او پراخې مطالعې له مخې راوړاندې شو او د "ګهيځ" رڼا يې خوره کړه. ګهيځ يوه خپلواکه اوونيزه جريده وه چې د منهاج الدين ګهيځ په امتياز او مسووليت يې د ١٣٤٧ لمريز کال د دلوې پر ٢مه نيټه په خپرونو پيل وکړ او پر همدغه ورځ يې لومړۍ ګڼه چاپ کړه، چې د ګهيځ جديت او مسووليت ترې له ورايه ځرګندېږي.

ګهيځ د هيواد، سيمې او نړۍ پر حالاتو په زړه پورې ليکنې خپرولې، د واکمنو او عام ولس پاملرنه يې خپلو مسووليتونو ته را اړوله، اروانښاد صباح الدين کشککي د دهۀ قانون اساسی افغانستان په ۵۴ مخ کې دغه اړخ ته يوی ځای داسې اشاره کوي: « د ١٩٧٣ لمريز کال د جنورۍ پر ٢مه نيټه شفيق په خپل يوه مطبوعاتي کنفرانس کې وويل: «دا د حکومت دنده ده چې په هيواد کې د اسلام ضد تمايلاتو مخنيوی وکړي» . ګهيځ جريدې د شفيق د دغو ځرګندونو په اړه په يوه تبصره کې وليکل چې د صدر اعظم دغه ځرګندونې په دې ارزي چې پر هغو تبصره وشي، ځکه مخکينيو حکومتونو اسلامي مسايلو ته رښتينې پاملرنه نه ده کړې او زموږ په ټولنه کې يې د ديني اصولو انحرافات يوازې د سياسي ألو تر منځ د نظر اختلاف بللی. ګهيځ وليکل ديني مسايلو ته د پخوانيو حکومتونو د ناپامۍ له امله چې زموږ پر ټولنه يې خومره ناوړه اغيز کړی د دغو د مخنيوي لپاره د صدراعظم شفيق په څير زړورتيا او صريحه لهجه د زيات ارزښت وړ ده».

د افغانستان اوسنی حالت ته چې لږه ژوره کتنه او پام وکړو دا به صريحاً په ډاګه د خپلې ټولنې کلتور او دستور په (Politicians)شی چې رښتيا هم که زموږ سياستوالو پام کې نيولی وای او همغسې مبارزه او چلند يې کړای و، نو ټولنه به مو له دومره سترو

بدبختیو سره نه مخامخیده او نن به مونږ د یو خپلواک، پیاوړی، خود کفا او سوکاله افغانستان شاهدان وو. خو ګهیځ د خپلې ټولنې پر نبض پوهیدلی ؤ، هغسې چلند او مبارزه یې کوله چې ولس یې بیداروه او په خپله همدې پاکې مبارزې کې مخ په وړاندې لاړ، دومره چې سور شورویان او مخالفین یې وارخطا کړ او د ده د وژلو پلان یې جوړ کړ.

ګهیځ یو داسې بیداروونکی غږ ؤ چې نړی یې د عقباتو شیشه ګڼله، دین او نړی یې د پوهې پر ورښمین مزي نښلول. په همدې اړه په لومړی ګڼه کې لیکي: «مونږ د اسلام مقدس دین د ساینس، تخنیك او د ځمکې پر مخ د ترقی او پرمختګ لپاره د هر ډول امکاناتو څخه د کار اخیستلو او د فضا د یوې برخې د تسخیرولو مخالف نه ګڼو او دغه راز عقیده لرو چې په هرې ټولنې کې صالح او سالم تمدن او د پوهې او ساینس له لاری د انسان پرمختګ هیڅکله د اسلام د سپیڅلي دین په مخ کې خنډ نه شي کیدای، بلکې زموږ پوره باور دی چې د بشریت د رفاهیت او هوساینې لپاره د خدای(ج) آوامرو ته غاړه ایښودل او په ژوندانه کې فعالیت کول دواړه لازم دي.» همدغه راز د دین او اسلام په اړه د افغانانو بلهاری ته داسې اشاره کوي لکه دغه لاندې پاراګراف چې له نن څخه کابو څلور لسیزه پخوا یې لیکلي چې له اوسني حال سره ورې دی: « دا لیدل شوي چې په شرق کې د افغانانو په خیر هیڅ قوم د اسلام دین، د خپرېدو لپاره خپل سرونه نه دي قربان کړي او نه هیڅ قوم د غرب سیاسي او مذهبي استعمار ته دومره کلکه خپیړه ورکړې ده. تاریخ شاهد دی چې زموږ خلکو د خپلو معتقداتو او عنعناتو د ساتنې په لار کې سختې قربانی ورکړي دي، د هیواد اوسنی نسل دا مکلفیت لري چې خپل ټول دیني او ملي نوامیس د خپل ژوند په بیه وساتي.»

لکه څنګه چې تاسو هم پوهیږی ګهیځ سیاسی، اجتماعی او فرهنګی نشریه وه.

د ګهیځ سره نه یوازی افغانانو اړیکه لرلې بلکه د پاکستان ، ایران او نورو اسلامی هیوادونو

علماو او پوهان هم ګهيځ سره همکاري درلوده او مطالب يې د ګهيځ اوونيزی له لاری او د شوروی کمونيستی (American Imperialism)انتشاراوه. ګهيځ امريکايی امپرياليستی سياستونو په خلاف په شدت سره مبارزه کوله. ګهيځ په ۱۵۰ ګنه، ۱۱ د چنګاښ ۱۳۵۱ لمريز کال کې د «اسراييل يا ولايت پنجاه ويکم آمريکا» عنوان لاندی يوی مقالې کې ليکي : «په دغه مقالې کی ګهيځ د اسراييلو او امريکا اړيکې افشا کوی او د نړۍ د ټولو مسلمانانو نه درخواست کوي چی متحد شی او دغه نا مشروع موجود يانې اسرايلوی سره مبارزه وکړی. »

ګهيځ د نا اسلامی فعاليتونو په خلاف سخت جدوجهد کوؤ ، د حکومت نا اسلامی کړنې يې غندلې او حکومت يې ملامتوؤ ؛ځکه هغه وخت کې حکومت په اسلامی فعاليتونو باندی سخت بنديزونه او فشارونه لګولي ؤ. د همدی خبرې په تاييد ګهيځ د حکومت لخوا د يوه روحاني شخصيت نيولو په اړه ليکي: «حکومت بايد په دې پوه شی چی هيڅکله هم نشی کولای د خلکو خولې بندې کړی او که څو کسه هم ونيسی او زندانو کې يې بندی کړی، سلګونو او زرګونو نور کسان به د حکومت د ناوړو کړو په اړه وغږيږي. که حکومت غواړی چی دی مبارزينو دغه جدال پای ته ورسيږی نو دا بايد حکومت وی چی د دغه جريان نه په شاته تګ وکړی او بايد د خپل نا اسلامی او د ملی مصالح خلاف عناصر ويجاړ کړی او بايد په دی باندی کاملآ ويسا ولری چې مسلمانان هيڅکله هم په شا تګ نکوي او که څوک يې غواړی او که نه هغه ټول خنډونه او عوايق چی د اسلامی مبارزی په مخکې رازي له منځه به يې وړی خواه دغه عوايق او خنډونه د ملی مصالح په خلاف وی يا د هغوی د رسمی مويدينو لخوا. »

**د ګهيځ شهادت ( The Martyrdom of Ghaeez)**

ګهیځ په داسی سختو شرایطو کی مبارزه کوله چی له یو خوا حکومت او د بلی خوا نوری سیاسی ډلې ټپلې د اسلام خلاف فعالیتونه  یې کول او د هر اسلامی حرکت د سرنګونولو پلانونه یې جوړول. په داسی حال کی ګهیځ په پوره شجاعت او بهادرئ سره د ټولو مخالفو عناصرو په خلاف مبارزه وکړه او خپلو موخو تر لاسه کولو کې بریالی هم ۋ. هغه تل د افغان ولس فکری رغونی لپاره وجنګیده او د ګهیځ رڼا یې خپره کړه. ګهیځ د خپلې ټولنې پر نبض  پوهیدلی ۋ، هغسې چلند او مبارزه یې کوله چې ولس یې بیداروه او په خپله همدې مبارزه کې مخ په وړاندې لاړ او د افغانستان هر سیمی ته یې د ګهیځ د خوشبویه پیغام ورساوه.

ګهیځ  د ۱۳۵۱ کال د وري پر ۱۶ ماښام په خپل کاله کی  له دوه نورو میلمنو سره ګډ د یوی مسلح ډلې لخوا د ماښام د ډوډی خوړولو په مهال کې پر شهادت ورسیده. د ګهیځ شهادت ډیر مرموزانه ټوګه باندی اجرا شو چې تر اوسه هم اصلی قضیه شتون  (Hypothesis) عوامو ته مالومه نه ده.  د ګهیځ  د مرګ په باره کی څو فرضیه لری ولی لکه څنګه می چې مخکې ذکر وکړو تر اوسه هم په صحی توګه مالومه نه ده چی ګهیځ چا شهید کړی دئ. یوه فرضیه داسی ده چی ګوندی ګهیځ د خلق دموکراتیک ګوند لخوا شهادت ته ورسیدو ، البته د  دی فرضیه د ثبوت لپاره د منلو وړ دلایل نشته. بله فرضیه داسی وایی چی د ګهیځ د قتل نقشه چی پرچمیانو (ببرک کارمل، سلیمان لایق، میر اکبر خیبر او تهذیب)  طرح کړی وه د ګلبدین حکمتیار په واسطه چی تازه شهید منهاج الدین ګهیځ سره آشنا شوئ ۋ عملی کړه  ولی بیا هم دا یوازی یوه فرضیه ده او د ثبوت لپاره یې هیڅ ډول مدارک نشته. دریمه فرضیه داسی استدلال کوی چی له هغه ځای نه چې ګهیځ پښتون ۋ  او په افغانستان کې هغه وخت د پښتنو خلاف (-Anti داسې ډلې فعالیتونو کول چی یواځنی موخه  یې د پیاوړو پښتنو له منځل  (Pashtuns

وړل یا بدنامول ۇ نو ځکه دا شونې ده چې ګوندی ګهیځ د دغو فاشستانو لخوا شهادت ته رسیدلئ وی. ښاغلی کشککي په دې اړه بیا  داسې لیکي: «نخستین مدیر این جریده در زمستان ۱۹۷۲ بطور اسرار آمیز کشته شد، تفنګداران (به) منزل او در یك موتر جیب روسی بدون نمبر پلیت آمده بودند، جریده کاروان واقعأ شهادت او را به تفصیل نشر کرد ولی هر گز اعلان نشد که چه کس دسیسه قتل او را چیده بود». او "حقیقت التواریخ" (افغانستان از امیر کبیر تا رهبر کبیر) د ګهیځ د شهادت په اړه لیکي: «یکی دیگر از واقعات مهم و مبهم دوران محمد ظاهرشاه شهادت منهاج الدین ګهیځ، صاحب امتیاز و مسوول جریده آزاد و ملی به نام ګهیځ که به صورت بسیار سری و مرموز صورت گرفت، قاتل در ظاهر شناخته نه شد، اما از اینکه نشرات و جرآید اکثرآ به ضد احزاب کمونستی و ضد اهداف استعمار اتحاد جماهیر شوروی نشرات میکرد، همه به این باور بودند که قتل او شوروی صورت گرفته باشد، بعدها گفته   (KGB)از طرف سازمان جاسوسی کی جی بی می شد که این قتل توسط آفسر کوماندوی بالاحصار لومړی برید من فیض محمد مسعودی عضو سفارت شوروی که مامور کی جی بی بود صورت   (Abloph)و همکار اشتراك ابلوف گرفت...»

زه بیا د لاندی دلایلو په اساس په  دی اند یم چی ګهیځ  د شوری اتحاد د لخوا شهادت ته ورسیده (KGB) جاسوسی سازمان یانې کی جی بې :

**١.  شوری اتحاد په افغانستان کې پانګه اچونې کړې وي**

**(USSR had invested in Afghanistan)**

لکه څنګه چی پورته هم تذکر ورکړل شو شوری اتحاد له ډیر پخوا نه  د افغانستان د نیولو ستراتیژیکي نقشه جوړه کړې وه او که تاسو تاریخ ته وګورئ شوروی اتحاد هر هغه عنصر چې د شوری اتحاد د دغه پلان مخ کی راغلی په قتل رسولی ده. ګهیځ هم

د کمونیزم او شوری اتحاد په خلاف فکری رغونی کولې او کافی شهرت یې هم تر لاسه کړئ ؤ. شوروی اتحاد د ګهیځ د دغو فعالیتونو نه آګاه ؤ او وارخطا شو او بالاخره په ډیر مرموزانه ډول یې شهید کړو.

## ۲. ګهیځ ملت پال ؤ( Gaheez was a Nationalist)

د ظاهر شاه د حکومت څخه دیخوا په افغانستان کی یو عجیب وضعیت منځته راغلئ ؤ. هغه وضعیت دا وه چی ډیرې ډلې په افغانستان کی د شوری اتحاد اداری لاندی موجودی وی چی موخه یې یوازی د ملت پالو شخصیتونو پیدا کول او د هغو قتل یا سیاسی حرکت ؤ چی شوروی (Technical)بدنامول ؤ. دا د شوروی اتحاد یو ډیر تکنیکی اتحاد لپاره ښې پایلی هم درلودی. ګهیځ په افغانستان مپین ؤ او یو ملت پال کریکتر یې لرلو( ملت پال په دی معنا نه ده چې یوازی پښتانه یې غوښتل بلکه په دی معنا چی د افغانستان غوښتونکی ؤ)، نو ځکه شوروی اتحاد د ګهیځ قتل روا ګڼه

## ۳. د پښتنو خپل (Compressing Pashtuns)

په څیر د امریکا ، شوروی اتحاد هم په دی باندی پوه ؤ چی که افغانستان د قبضه لاندی راوستل غواړي یا خو باید پښتانه خپل خوا کړی او یا یې هم ویجاړ او وځپوی. د دی کار لپاره د خلق دموکراتیک ګوند ویشل اړین ؤ چی دغه ویشل د ۱۹۶۵ میلادي کال نه پیل شو. هغه پښتانه چی خپل ځانونه یې معامله کړل مقامونه یې تر لاسه کړل او هغه پښتانه چی د افغانستان معامله یې ونکړه یاخو په شهادت ورسول شول او یا هم داسی بدنامه شول چی ولس تری زړه توریٔ شو. د دی کار لپاره د پرچم ډله په رسمی توګه باندې د شوروی اتحاد لخوا ګمارل شوی ؤ او پرچم په داسی توګه پښتانه وځپول چی اغیزی تر اوسه هم پاتی دی. ګهیځ هم هغه کتګوری کی ؤ چی وطن لپاره یې

ځان ورکولی شوه خو  د وطن معامله يې نشو کولای د ګهيځ همدغه خاصيت د هغه د قتل باعث وګرزيده.

## ۴. د اسلام ويجاړونه(The Killing of  Islam)

افغانستان ماشاالله هغه هيواد دی چی کابو سل په سلو کی مسلمانان دی او پر اسلام باندی واقعآ په صحی توګی باور او ويسا لری. زه فکر نه کوم چی لکه افغانانو غوندی په عقيده سخت ولاړ مسلمانان به د نړی په بل ځای کی شتون لری. دا هغه هيواد دی چې د اسلام لپاره يې خپل خواږه ځانونه هديه کړی دي او په تشو خيټو او لاسونه انګريزانو او شورويانو سره جنګيدلی دي. افغانان سر سخته ولس دي او ځانګړی فطرت او طبعيت لری چی بلکل د نړی نه جلا دي. شوروی اتحاد په دی باندی پوه ؤ چی د افغانانو توان په اسلام کی دئ او که اسلام له منځه لاړو ، ويجاړ شی او يا کمزوری شی نو بريا به ترلاسه شی. که تاسو تاريخ ته کتنه وکړی نو دا به تاسو ته په ډاګه شی نه ديخوا زمونږ (Kingdom of Mohammad Zahir Shah)چی د محمد ظاهر شاه سلطنت کافی دينی علماو شهادت ته رسيدلي دی او عامل يې يوازی د اسلام ويجاړونه وه. ګهيځ هم اسلامی عالم ؤ او د اسلام په لاره روان مجاهد ؤ نو ځکه دا منطقی ده چی مونږ باور وکړو چی شوروی اتحاد د ګهيځ د قتل نقشه جوړه کړی وه.

د پورتنيوو دلايلو پر بنسټ دا  صريحآ وويلئ شو چی د ګهيځ د مرګ پلان د شوروی اتحاد د جاسوسی سازمان لخوا طرح شوی وه هو دا شونې ده چی د دغه پلان پلی کيدلو کې د دننی مهرو څخه کار اخستل شوئ وی. له هغه ځای نه چی افغانستان تر اوسه هم د بهرنيانو د يرغل لاندی دی او ولس ارامه او مصون نه دئ ځکه خو ډير حقايق تر اوسه پټ پاتی دی ولې انشاالله کله چی خلکو ته حقايق مالومه شي ډيرو هغه خلکو باندی چی مونږ نن وياړ او ملی اتلان ورته وايو سبا به ورته ملی خاينان وايو او

ډیرو نورو شخصیتونو نه چې ولس زړه تورئ دی او په ظاهرآ ملی خاینان پروپاګند شوي دی سبا به ورته ملی اتلان وایو، صبر وکړی د حقایقو څرګندیدل په لاره ده...

## د شهادت وروسته (After Martyrdom)

د ګهیځ له شهادت وروسته د جریدې خپرونې د دوه نیمو میاشتو لپاره وځنډېدې، بیا وروسته د ۱۳۵۱لمریز کال د لیندۍ پر ۲۶مه نیټه ګهیځ جریده د اروښاد مولوي عبدالرب احدي وردګ (Mawlavi Abdulrab Ahadi Wardak)ښاغلی په مسوولیت خپرونې پیل کړې. شهرت ننګیال چې د ګهیځ یاد په نامه یې پر ګهیځ کتاب کښلی د ګهیځ جریدې د لیندۍ د ۶مه نیټه د ۲مخ د ګهیځ په اړه د یوې لیکنې اقتباس کړی:« شخصی بود متواضع، باحوصله، صریح اللهجه، دارای منطق، و استدلال قوی، با جرئت و شهات، مهمان نواز و با دوستان خیلی صمیمی، در زنده گی ساده و بی تکلفی را خوش داشت، بخدا توکل داشت و در راه مبارزه اسلامی چون کوه پا بر جا بود، به علماء احترام و ارادت زیات داشت، مگر وقتیکه میدید بعضی از آنها از صف مبارزه اسلامی عقب رفته اند خیلی متاثر میگردید.»

## خلاصه (Summary)

د شهید ګهیځ اسلامی او ملی خدمتونه به تل د افغانستان او نړی په تاریخ کی په زرین خط لیکل کیږی. هغه د افغانستان په تاریخ کی ځانګړئ ځای لری. د هغه ښتونوالی قلم او د شوروی ګوډاګیانو پر ضد د قلم توانایي افغان ولس ته په ډاګه ده. ګهیځ یو با صبوره، منطقی او د استدلال نه ډک شخصیت ؤ. د هغه زړورتوب، شهامت، بهادری او شجاعت د داد وړ ده. هغه په دین کلک ولاړ او با ثباته مجاهد ؤ څکه چې ځومره د شهرت او امکاناتو پریمانی او په ژوند کې مخکې لاړو هومره پکې د اسلام او ملت سره مینه زیاته او پیوند یې قوی شو . ګهیځ د عدالت، اصلاحاتو او برابری او

خپلواکۍ غوښتونکی ؤ او کوښښ یې کوه چې افغان ولس بیداره او ویښ کړی. په افغانستان مېین او ملت پاله فطرت یې درلوده. معنوی سړی ؤ او په ناسته ولاړه کې ، په خوراک ځښاک کې، په سترګی مشی او خدای په امانی کې په دې ټولو کې هغه هومره هم درونډ او هم آسانه چلیدو. میلمه پال، پیاوړی، وفادار او با غیرته پښتون ؤ. هغه د روښانه اسلامی عقیدی او پراخی آیډیالوژي خاوند ؤ خو له بده مرغه د هیواد دښمنانو د دغه غیر ازانګې او انعکاس ونشوه زغملئ او ګهیځ یې په شهادت ورساوه ولی هیڅ خبره نه ده که یو ګهیځ شهید شو نن په افغانستان که د ګهیځ په لاری په زرګنو نور ګهیځیان روان دی . ای د اسلام او افغانستان پاسدار ګهیځه ستا رڼا به تل خوریږی او ستا لاره به تل ادامه لری...

## یاداښت (Notes)

١. ده شوی مرکه سره کورنئ هغه د هکله په ژوند شخصی د ګهیځ د.

٢. شوی لیکل اساس پر کتاب د افغانستان انقلابی د تاریخ تاسیس د خلمیانو ویښ د دی. دغه کتاب ډاکټر بیوری میل په انګلیسی ژبې لیکلی ځی.

٣. خرګندونې ډول همدغه کتابونه کابو ټول په هکله په تاسیس د ګوند دموکراتیک خلق د لري.

٤. دی شوی لیکل اساس په ګڼي لومړئ جریدی د ګهیځ د تاریخ د جریدې ګهیځ د.

٥. ګنې اتمی د ګوربت د اړه په ګهیځ د خرګندونې شپون الدین سعد استاد دښاغلی مرکې نه اخستل شوی دی.

٦. ټول اقتباس شوی تبصری او خرګندونې هو بهو همغسی لیکل شوی دی.

۷. د ګهیځ د آیډیالوژي په هکله ځیرنه شوی چی د ګهیځ جریدې نه پرته د ګهیځ ، کورنۍ او خپلوانو سره مرکې تر سره شوی دی.

۸. ځني مالومات د انترنتی پاڼو نه هم اخستل شوي دي.

۹. ټول تاریخی حقایق کتابی اساس لري.

۱۰. د ملت پال یا نشنلست ټکی د محدود معنا پر اساس نه ده کارول شوی. هر هغه ځوک چی د افغانستان سره مینه لری او افغانستان باندی سر قربانولئ شی د پورتنۍ مطلب په چوکات کې نشنلست ئی.

۱۱. د ګهیځ شخصیت، موخه او آیډیالوژي په هکله د کتابونو ، د لیکوال شخصی ځیرنه او برداشت په اساس لیکلنه شوی ده.

۱۲. د مسلمان ځوانانو نهضت د تاسیس نیټه د حسن کاکړ کتاب « افغانستان» په اساس لیکل شوی دی چې د تاریخ نورو کتابونو سره سمون لری.

## اخځلیکونه|References


1. انقلابی افغانستان ، د ډاکټر بیوری میل کتاب
2. افغانستان: د خلکو او سیاست لنډ تاریخ،د مارټین ایوانز کتاب
3. افغانستان، د ډاکټر حسن کاکړ کتاب
4. آشوب بیگانه گان ، د نظیف الله نهضت کتاب
5. د افغانستان جګړه: یو ډیر لنډه تاریخ، د توماس بارفیلډ کتاب
6. نهضت های اسلامی افغانستان،د هادی خسروی شاهی کتاب
7. یادواره اسماعیل بلخی، د علام سید اسماعیل بلخی کتاب

8. د ګهيځ ياد، د شهرت ننګيال کتاب
9. افغانستان: ملا، مارکس او مجاهد، د رالف ح. مګنوس او اډين نا کتاب
10. حقيقت التواريخ (افغانستان از امير كبير تا رهبر كبير)، د حضرت علاومه عبدالحق مجددی کتاب
11. تاريخ معاصر افغانستان: از احمد درانی تا سقوط کمونيست ها ، د علی اکبر فياض کتاب
12. شرح زمانی رويداد های مهم افغانستان، د ډاکټر محمد ثنا متين نيکپي کتاب
13. افغانستان: يو معاصر تاريخ، د انګلو راسناياګم کتاب
14. معصر افغانستان: د هځو او بقا تاريخ، د امين سيقل کتاب
15. د افغانستان کلتور او سياسی تاريخ، د توماس بافيلډ کتاب
16. افغانستان: مخينه او حاضره، د الفريد آغاجانيان او پيټر ر. بلد کتاب
17. دهۀ قانون اساسی افغانستان، صباح الدين کشککي
18. د ګهيځ جريدې مختلف ګڼې
19. د د ګهيځ په اړه مختلفې مقالې، تبصری او شننې
20. مختلفې انټرنټي ويب پاڼې